PROPERTY OF ACKU

دډلوي ۲۶ مه دروسي پوځونو دشرميدلي ماتي اوتيښتي دتاريخي ورځي په توګه خپل مجاهدولس ته په ګران هيواد کي داسلامي حکومت دقيام په دعا بختوره غواړو

هفته نامه

دجهاد هنداره

مــراة الجــهـاد

لومړی کال (۲۳)گڼه د۱۳٦۹ هـ ش کال دحوت لومړۍ نیټه

فتح پنج پوسته وسقوط دوطیاره دشمن

مـجـاهـدیـن راه حـق دراثـر عملیات جداگانه شش پوسته رادرهرات وقندهار فتح ودوطیاره نظامی رادرولایت زابل سقوط دادند .

طبق اطلاعات منتشره مجاهدین هرات طی عملیات پیروزمندانه که درین اواخر برپوسته های کمربند شهرهرات انجام دادند چارپوسته رژیم منفور کابل رادربخش باباجی فتح وده تن ازنوکران رژیم راهلاك

درصفحه « ۸ »

دکــابــل په راډيــو اسـتـيـشن بـانـدې دمجاهــدينو بريد

په اتم مخ کي

الحاج حقاني دامریکا غږخبریال دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل :

دکابل رژیم ددوام لومړنی اواساسي علت دمجاهدینو ترمـنځ دواحدی نظامي او سیاسي ستراتیژي اواداري نـشتوالی اودنـــړیوالو مرستو کموالی دی

په (۳) مخ کی

دامنیت شورا غونډه وځنډیده !

نیویارك ددلوی ۲۸مه :

دملگروملتودسازمان دامنیت شورا غونډه ، ترهغی پوری وځنډیده ترڅودعراق دبهرنیو چارودوزیر طارق عزیز اودروسی جمهوررئیس گورباچوف ترمنځ دکیدونکو خبرواترو نتیجه ترلاسه نشی.

دهفتی په شپه دامنیت شورا په غونډه کې دخلیج دجگړی دنوی صورت حال په هکله بحث اومذاکره وشوه .

دملگروملتوپه سازمان کې دعراق سفیر یوځل بیا دخپل هیواد په نوی موقف ټینگارکړی اوویلی یې دی چې دعراق حکومت دخلیج جگړی دبندولو لپاره دخبرو اترو کول غواړی .

روسیه به دولت ایسلند اخطار داد

روسیه به ایسلند اخطار داده است تاجمهوری لیتوانیای روسیه را برسمیت نشناسد درغیر ان روابط دیپلوماتیك خود را بانکشور قطع خواهد کرد .

یك نطاق دولت روسیه ضمن ابراز این مطلب گفته است برسمیت شناختن لیتوانیا بحیث یك کشور مستقل پروبلم لیتوانیا راپیچیده ترخواهد ساخت نطاق دولت روس این تبصره راهنگامی نمود که پارلمان ایسلند رای داد تا جمهوری لیتوانیا بحیث یك کشور مستقل برسمیت شناخته شود ، دولت ایسلند گفته است که انکشور لیتوانیا رابحیث یك کشور مستقل می شناسد .

قبلاً نیز یك نطاق وزارت خارجه روس ازعواقب بداین اقدام درروابط روسیه و ایسلند به دولت ایسلند هشدارداده بود .

طرفداری نود درصد مردم لیتوانیا ازاستقلال آنکشور ازحاکمیت مسکو نیز زنگ خطرجدی به مسکو است که باید روی احقاق حقوق ملتهای تحت ستم دولت کمونستی روسیه بادقت بیشتر فکرنماید .

په تیرپسي :

دحق په مورچلونوکي خوشبي

په دریم مخ کی

دثمرخیلو په نظامی مرکزونو دثقیله وسلو برید

په هغه راپورکې چې دننگرهار ولایت دثمرخیلو دجبهو څخه دقوماندانانو شورا نظامی دفترته رارسیدلی ، ویل شوی چې دثمرخیلو له سیمی څخه ددښمن (٤٠) کسه افراد وتښتیدل ، چې دهغی ډلی څخه ۲ کسه د«گردی کڅ» په سیمه کې له مجاهدینو سره یو ځای شول .

دعراق دبهرنیو چارو وزیر که دهوا له لاری مسکو ته لاړشی نودهغه الوتکه به راوغورځول شی

« تام کیلی »

ریاض :

امریکنی جنرال «تام کیلی » خبرداری ورکړی چې که د عراق دبهرنیو چارو وزیرطارق عزیز دالوتکی له لاری له تهران څخه مسکو ته لاړشی نودهغه الوتکه به راوغورځول شی .

تام کیلی زیاته کړی ده چې اتحادی پوځونو ته ددی امر ورکړل شوی چې په هره هغه الوتکه باندی ډزی وکړی ، کومه چې دجگړی په دایره کې الوتنه کوی .

مجاهدينو دخپلې عقيدې اوايمان په قوت دزياتو قربانيو په نتيجه کې سره اردو ماته کړه « استاد سیاف »

دافغانستان څخه دروسي قواو دوتلو سره سره روسانو دافغانستان په وړاندې په خپل سیاست کې بدلون نه دی راوستی « مولوي خالص»

په (۳) مخ کي



په مصر کی دالجهاد سازمان له سلو زیات غړی نیول شوی دی

قاهره :

دمصر پولیسو دیوی بنیادگری اسلامي ډلی (الجهاد) له سلو څخه زیات غړی نیولی دی .

دغه خلك دقاهری په جنوب په «بنی نصیر» نومی سیمه کی دخلکو دوکانونو ته داور ورته کولو په تورنیول شوی دی .

دمصر پولیسو ادعا کړی چې ددی خلکو دکورونو دلټونی په لړکې داسی نشرات اوابلاغیی په لاس ورغلی چې دحکومت پرضد مواد لری .

سرمقاله

دروسي پوځونو دشرميدلی ماتې دوهمه کليزه

دوه کاله مخکی په همدی ورځو کې په نړیواله سویه دروسی وحشی اوتیری کوونکو پوځونو دشرمیدلی ماتی داستان تکمیل ته ورسید اودیوی لسیزی خونړی جگړی وروسته روسی لښکری دشکست له درانده اوشرمناك بارسره دامویه رود پوری وتلی .

دروسانو دتیری په پیل کی هیچاهم دافکرنه کاوه چې روسی لښکری به له داډول اوږده اوسخت مقاومت سره مخامخ کیږی . روسانو خوخپل تیری پلان شوی اودقیق عمل گاڼه پخپلو وژونکو وسلو غاوره اوږاوږه ژاوږمقاومتونودتږکولو کافی تجربه یی لرله څکه خوهغوی دخپلی کامیابی روښانه پیش بینی کړی وه .

غرب اوامریکا دروسیی دتیری په مقابل کی هرډول

په اتم مخ کي

په خليج کې چې پر مسلمانانو کوم مصيبت راغلی دهغې له مخې لازمه ده چې عالمان دسهار په لمانځه کې قنوت نازله ولولي اودالله تعالی (ج) په دربارکې دعاوکړي چې ددغې فتنې اومصيبت له شرڅخه اسلامي امت ته نجات ورکړي . (الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دامت پر تتر یوبل زخم

په خلیج کې دجګړې نژد ی یوه میاشت مخ په پوره کیدو ده پدغه موده کې چې دجګړې سوځوونکو لمبو پراسلامي امت کوم ناتار اوقیامت راکوزکړی هغه داستعماری قوتونو دګډو توطئو اوسازشونو نتیجه ده چې یو په بل پسی دامت دعظمت ،اتحاد اوقوت دکمزورتیا اوضعف له پاره په لاراچول کیږی . له ځلویښتو کلونو څخه زیات وخت کیږی چې داسلامي امت پرتتر دفلسطین زخم دوینو داری وهی ددی په څنګ کې دکشمیر مسلمانان دهندوستان کفارو داستبداد په ژرنده کې دژوند اومرګ په کشمکش بوخت دی اوپوره دولس کاله دافغانستان مسلمان ولس دروسی وحشت په لمبو کې نینه کیږی اوپه‌دی لړکې ۸کاله دایران عراق دولسونو پرسرداوراوباروتو لمبی بلې وی اواوس دادی ټول خلیج داورلمبه ګرځیدلی اوټول اسلامي امت یی دویر پرتغرکینولی دی .

پرکویټ دصدام حسین دظالمانه تیری له امله استعماری قوتونو ته دافرصت اوپلمه برابره کړه چې په خلیج کې دوحشت اوربل کړی اوداسلامي امت اتحاد اوقوت ټوټی ټوټی کړی .

صدام نه یواځی داچې دعراق مسلمان ولس له یوی نه جبرانیدونکی تباهی اوبربادی سره مخامخ کړیلکې ټول اسلامي امت یې دداسی خطراوګواښ سره لاس اوګریوان کړچې یقیناً ډیری دردونکې فاجعی یې رامنځ ته کړی .

کفری اواستعماری ځواکونه په همدی لټه کې ؤ چې څنګه وکولی شی داسی فرصت ترلاسه کړی چې د اسلامي امت پر ضدخپلو توطئو اودسیسو ته عملی زمینه برابره کړی .

پدی رابطه دصدام سیاستونو داستعماری قوتونو له پاره خوراښه موقع برابره کړه .

چې‌داسلامي امت پرضد خپل طویل المدت استعماری پلانونه دعمل په ډګرکې پلی کړی .

له همدی څخه په استفادی‌کفری طاقتونو وکولی شول دخپلو ناولواهدافو په لور یوستر ګام پورته کړی اودمسلمانانو صلاحیتونه اوقوت دکمزوری خواته تیل وهی .

دهمدغه ډول فاسدو واکمنو دمنفی سیاستونو په نتیجه کې داسلامي امت له پاره لا دیوه خطر لمبی نه وی غلی شوی چې بل ځای نورو مصیبتونولکه دبلا خوله ورته خلاصه کړی وی .

دافغانستان بریمن مقاومت چې داسلامي امت په وړاندی کوم درس پریښود دهغی پیغام په ټول امت کې دبیداری اوویښتابه انګازی خپری کړی اودافغانستان جهاد دټول امت له پاره دمقاومت اوتحرك دیو خوځند پیغام اوالهام ښه غوره کړه ، خوداسلام دښمنانو دخپلو استعماری حربو اومانورو داسی سلسله رامنځ ته کړه څوددغه جهاد داغیزو مخه پری ونیسی اوڅپیځلو اوعالی اهدافو په وړاندی یې مشکلات اوګواښونه رامنځ ته کړی .

دخلیج تباکوونکی جګړه چې دصدام حسین دځان

په (٦) مخ

الحاج حقاني دامریکا غرخبریال دیوي پوښتني په ځواب کي وویل :

دکابل رژیم ددوام لومړني اواساسي علت دمجاهدینو ترمنځ دواحدی نظامي او سیاسي ستراتیژي اواداري نشتوالی اودنړیوالو مرستو کموالی دی

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دروسی پوځونودوتلو ددوهمی کلیزی په رابطه دامریکا غږ راډیو خبریال ددغه پوښتنی په ځواب کی چی دروسی پوځونو له وتلو وروسته ددووکلونو په تیریدو بیا هم دکابل رژیم په ځای پاتی دی وویل :

ددی لومړنی اواساسی علت دمجاهدینو ترمنځ دیوی واحدی سیاسی اونظامی اداری نشتوالی اوله مجاهدینو سره دنړیوالو مرستو کموالی دی .

حقانی صاحب زیاته کړه : هغه وخت چی په افغانستان کی روسی پوځونه موجودؤ له مجاهدینو سره دنړۍ دزیاتره هیوادونو په سیاسی اواقتصادی لحاظ مرستی اوهمدردی موجودی وی خوکله چی دمجاهدینو دمقاومت اوقربانیو په نتیجه کی روسان له افغانستان څخه تیښتی اووتلو ته اړشول په دغو مرستو کی بیخی کموالی راغی اوحتی دنشت برابر شوی ، خوپه مقابل کی روسانو خپل مزدوررژیم ته له حده زیاتی وسلی‌اومهمات پریښودل اوهم یی ورسره ددرندو اوخطرناکو وسلو اومرستی سلسله دپخوا‌څخه پرتله زیاته اوګړندۍ‌کړه‌اوداسی وژونکی وسلی ګوډاګی رژیم ته ورکوی چی روسی پوځونو دخپل موجودیت په وخت کی هم نه وی استعمال کړی .

له بلی خوا دروسی پوځونو له وتلو وروسته نړیوالو په تیره دمجاهدینو مرستندویه هیوادونه دروس اوکمونیزم له خطر څخه مطمئن شول اودقضیی په رابطه یی عکس العمل اوبرخورد سوړشو کفری طاقتونو خودجهاد بریالی بهیر خپلو استعماری اهدافو ته سترخطروګانه اودجهاد په اړه یی سیاستونه بدل څه چی له دښمنی ډکه ښه غوره کړه .

> دروسي پوځونو له وتلو څخه وروسته نړیوالو په تیره دمجاهدینو مرستندویه هیوادونو دروس اوکمونیزم له خطرڅخه مطمئین شول اودافغانستان دقضیي په رابطه یي عکس العمل اوبرخو ړ‌دسوړشو

د۱۹۸۹ کال دفروري پنځلسمه ورځ‌دروسیي په تاریخ کي یوه له ډیر اوشرمه ډکه ورځ‌ده اودافغانستان داتل ملت په نیته لیك کي یوه له ویاړ اوبرمه ډکه ورځ .

هو ! په دي ورځ دروس هغه قواوي چي لس کاله وړاندي یي پرافغانستان تیري کړي ؤ ځوړند مغزي ، ټیټ سر ، اوفرقي اشغال کړي اوپه هغي کي دبنیادي اواساسي ودانیو په جوړولو بوخت شول .

هغه لاپي اویاتې مي هم په غوږو کي راوګرځیدي چي روسانو اومزدورانو به یي ویل : موږ نورچاته حق نه ورکوو چي په‌افغانستان کي یو ټك هم وکړي .

موږبه دافغانستان ترپولو دیوال تاوکړو اوبیا به هیچا ودریدي چي دافغانانو کورونه ړنګ شول ، کروندي یي ویجاړي شوي ، ښاروي یي تربمبارېو لاندي ووژل شول اوخپلوان ، دوستان عزیزان ، وروڼه اوپلرونه یي شهیدان شول خودوي وارخطا اوبي ارادي نه شول اودمقابلي ، مجاهدي اومبارزي توان یي له لاسه ورنه کړ.

وړاندي دوخت دیوه بل نړیوال ښکیلاك اوځواك دله غروره ډك تیري اوله شرمه ډکي ماتي تصویرونه وو.

له غروره ډك تیری،له شرمه ډکه ماته

«حبیب الله رفیع»

خره خوله اوکنډې کپري له افغانستان څخه ووتلي په همدي ورځ‌دروسي قواو‌ مشر جنرال«بروموف» په داسي حال کي چي سر یي ټیټ اچولي ؤ ، سترګي یي له اوښکو ډکي اوکومي یي له غریوه‌ډك ؤ دافغانستان په وروستي پوله دخپل هیواد ښکیلاکي بیرغ سره ونغښت اودآموپه سیندباندي یوچټ اوترشایي هم بیرته راونه کتل .

دروس دي هسکیرلي ، خواري اوله ذلته ډکي ورځي هغه شیبي هم رایادي کړي چي همدالوي پوځ‌چي دروس مزدورانو محدو قطعات‌نوم ورکړي ؤ په ډیر غرور ، تکبر اودفتحي اوبري په احساس زموږ پرپولو دهوا اوځمکي له لاري راواوښت اوافغانستان یي نور تسخیر شوي اودپترکبیر ښکیلاکي خوب ي تعبیر شوي ګانه ، اوهغه ورځې هم رایادي شوي چي دي پوځ‌په فاتحانه اندازکي دافغانستان ټولي عسکري قطعي ته اجازه نه ورکوو چي ترپوله واوړي راواوړي او...»

له دي سره مي ددوي هغه وحشتونه اوجنایات هم مخي ته ودریدل چي دهیواد په ګوټ ګوټ کي یي ترسره کړل ښځي ، ماشومان ، سپین ږیري اوځوانان یي شهیدان اودهیواد په بیلا بیلو برخو کي یي عامي اوډله ایزي وژني وکړي ، دوي داټول ددي لپاره وکړل چي ایماندار افغانان به تررعب لاندي روالي ، وبه یي ویروي ، تسلیم به یي کړي ، ایل به یي کړي اوښکیل به یي کړي .

له دي سره جوخت دافغانانو هغه ډلي اوسنګرلرونکي مجاهدین هم زما سترګو ته نیغ ودریدل چي وسله یي نیمګړي ، خواړه یي په نیمه ګیډه ، لوازم اوالبسه یي تحت العاده وو خوایمان یي ټینګ ، عقیده یي پخه اواراده یي راسخه وه اوهغه ورځي مي هم سترګو ته

هو ! همداکلك ایمان ، پخه عقیده اوټینګه اراده وه چي لوي خداي له دوي سره غیبي مرسته وکړه دښمن یي لرکړاودوي بر، دښمن یي مات کړ اودوي سوبمن ، دښمن یي ویرمن کړاودوي ویاړمن اویوځل بیا یي وړي ډلي ته په لویه ډله بري ورکړ اوددخپلو مخلصو بندګانو سریي لوړوساته اوددوي غړی.

هغه وخت هم همداسي یولوي لښکردوخت له عصري وسلو سره زموږ په هیواد رادننه شو عسکري قشلي اورسمي اداري یي لاندي کړي دهیواد سیاسي اونظامي شریانونه یي په لاس کي ونیول اوافغانستان یي نور تسخیر شوي اودخپلو مستعمرو په لړۍ ورزیات شوي وګانه .

یي دنګه کړه .

دمؤمنو اومیړنو افغانانو له لاسه دروس وحشي ښکیلاك اونړیوال ځواك ماتي زما دذهن په پرده څه نور تصویرونه هم ژوندي کړل‌اودایوه نیمه پیړي

خوهمداتش لاسي اوبي وسه ملت ورته راپاڅید دایمان اوارادي په زور یي مقابله پیل کړه پاڅون یي بري ته ورساوه اوانګریزان یي سروهلي بروهلي همداسي

به (٦)مخ کی

احمد ونیفر دنیکمرغۍ غیږې ته څنګه پناه راوړه ؟!

شفیقي

دجهاد هنداری ګرانو لوستونکو !

په هغه ټولنه کی چی له انسان نه دچا دخیر اوښیګڼی تمه نشته انسان اوانسانیت دښمنی ته ملاتړلی انسان دبشری تمدن دورکاوی لاری چاری لټوی ، هلته هرڅوك ددی زیارباسی چی زرترزره دبنیادم دله منځه وړلو ، مخه کولو اوشرمولو نوی مؤثره اوترټولو خطرناکه وسیله جوړه کړی ، هتله چی پلارله زوی نه په ویره کی دی اوورور ورور ته کوهی کینی ، انسان له خپل فطرت نه بی لاری شوی ، دجهالت اوګمراهی په بیابان کی سرګردان دی اونن یی وینو چی ټوله نړی یی دجنګ ، فتنی اوفساد په لمبو کی نژدی ده لوله شی .

هوکی اهلته په لویدیځه ټولنه کی ، دهماغه انسان ته ورته وحشیانو په منځ کی ډیر داسی کسان شته چی دفطرت لاره یی تپینګه کړی ، دعقل په رڼا دژوندانه په تیاره جاده مزل کوی اودخپل فطرت غږته لبیك وایی .

په همغه ټولنه کی داسی ککری هم شته چی مادی پوچ تمدن یی دعقل اوضمیر په سترګو پردی نه دی وراچولی ، اولوی خدای (ج) دهدایت په لاره روان کړی دی ، هلت دکفر ، شرك ،فساد ، فحشا اوګمراهی دتیارو په منځ کی ناڅاپه دحق شمعه بله شی ، بوځوان راپورته شی دحق داسلام بیرغ په اوږه کړی اودایمان په قافله ورګډشی .

څومره بختوردی هغه دسعادت دلاری لارویان ،په داسی حال کی چی بدبخته مسلمانان داسلام له انسان جوړونکی فطری دین نه لری کیږی هغوی دکفر اوګمراهی له تیارو نه داسلام په مبارك دین مشرف کیږی .

دنړی مشهوربوکسر (محمد علی کلی) دامریکا کیهانی اداری پخوانی رئیس نیل ارمستر انګ دپولیند دکارګری اتحادیی یونوماند غړی عطاالله ګوپانسکی ، دهند دتامیل ناډو یو مشهور ژورنالست عبدالله « ادیار » اوپه زرګونو تنه نوردهمدغسی نیکمرغه انسانانو له ډلی نه دی چی دشرك کفر اوګمراهی په لمن کی وزیږیدل ، وپالل شول،سترشول خودخدای (ج) په مهربانی دخپل سلیم فطرت غوښتنی ته تسلیم شول اودنور (اسلام) په جاده ننوتل ، دادی په دی ګڼه کی موږدیوه بل داسی نیکمرغه ځوان « احمد ونیفر » چی دجرمنی اوسیدونکی دی داسلام مبارك دین ته دراګرځیدو په زړه پوری کیسه وړاندی کوو چی داردو ډایجست دروان عیسوی کال دفبروری میاشتی په ګڼه کی چاپ شویده

«اداره »

زه دمیو نیخ اوسیدونکی یم ، اصلاً زموږکورنی لـه فرانکفورت نـه راغلی پـه (۱۷) کلنی کی چی زه لا دښوونځی زده کوونکی وم زما اړیکی لـه اسلام سره ټینګی شوی .

ماله سیل اوسیاحت سره ډیره مینه درلوده ، کله به چی رخصتی راغله زه به کوم نوی هیواد ته په سیاحت تلم یوځل می په رخصتی کی مـراکش تـه دتـګ نـیـت وکړخوله ماسره چی څومره پیسی وی هغه دمراکش دسفر لګښت نه پوره کاوه له مـجبوری نـه مـی تـرکـیـه انتخاب کړه ، زما داعادت ؤ چی کله به بهرکوم هیواد ته تلم نومخکی به می دهغه هیواد دمذهب ، عادتونو رسم اورواج اوتاریخ په باب ضروری معلومات ترلاسه کول ، دترکیی په باب راته معلومه شوه چی دهغه هیواد ټولنیز اقدارپه اسلام پوری تړلی نوماته داسلام په باب مطالعه ضروری شوه ، ترټولو دمخه مادقرانکریم یوه جرمنی ژباړه ولوستله چی وروسته وپوهیدم چی هغه ښه ژباړه نـه وه ، پـه هرصورت له هغی نه ماته داسلام څوبنیادی اصول څرګند شول پردی برسیره پراسلام دنورپوهیدلو تلوسه می زیاته شوه ، پـه ترکیـه کی می له مسلمانانو سره نږدی وکتل ، داسلام داصولو په باب می مطالعه اودبحث موقع ترلاسه کړه ،دقرانکریم دلوستلو اوپرهغه دپوهیدلو زمینـه راتـه برابـره شوه اوهمدلته می دنورو مذهبونو

سره داسلام مقایسوی مطالعه هم وکړه .

له ترکیی نه ترراستنیدو وروسته عسکری خدمت ته سوق شوم ماترڅلورو راتلونکو کلونو پوری په هغه څه فکرکاوه چی داسلام په باب می په ترکیـه کی مطالعه کړی وو ، له دی سره می مطالعه جاری وساتله ورو ورو له ماسره دااحساس پیداشو چی اسلامی تعلیمات اواحکام زماله شخصی ژوندانه سره ډیر

مناسب اړخ لګولی ، اوس له ماسره داسوال بلکل پاتی نه شو چی ایا زه مسلمان شم ، بلکی داپوښتنه راته پیداشوه چی تراوسه ولی مسلمان نه شوم پـه اسلام کـی درنګ اونسل هیڅ تبعیض نشته ، ځکه خوزما دمسلمانیدو په لاره کی هیڅ کوم خنډ نه ؤ ، داهغـه وخت ؤ چی زما

دپوځی خدمت موده سرتـه ورسیده ، دایمان پـه نورلـه مشرف کیدو مخکی زما پـه ذهن کی دوی مهمی پوښتنی راپورتـه شوی لـومړی پـه اسلام کی دقضا اوقدر مسئله اودوهم په اسلامی ټولنه کی دښځی مقام .

چی په اصل کی ماپه ترکیه اونوراواسلامی هیـوادوکی داسلام پـه ګوتـه کړی لاری

پرخلاف وضعیت لیدلی ؤ نوځکه زما په ذهن کی څه کـشـمـکـش اواخ اوډب راولاړشوی ؤ .

خوکله می چی په دی باب ښه فکر وکړوپوهیدم چی زما پـه ذهـن کـی پـورتـنـی راپیداشوی پوښتنی مهمی دی خودومره ضروری نه دی چی زما داسلام راوړلو په مخ کی خنډ شی ،همغه ؤ چی

یـوازی دومـره وایـم چی لـه ځانه دیوه ریښتونی مسلمان جوړیدو زیارباسم .

احمدونیفر دخپلی مسلمانی په باب ددوستانو اوکورنی عکس العمل په باب وایی چی :

زمـا کـورنـی اودوسـتـانـو لـومړی فـکرکـاوه چی دایـوه جذباتی پریکړه ده دوی دری ورځی وروسته پخپله بیرتـه

ما دمسلمانیدو تکل وکړ ، دهغو عادتونوپه پریښودلو می پیل وکړچی په اسلام کی حرام دی ، بیا می دحق پاکه کلمه وویله اومسلمان شوم ډیر هغه خواړه چی په اسلام کی حرام وو هغه می پریښودل ، لمنځونه می پیل کړل اوزما په ټول ژوند کی یو ژورانقلاب راغی ،اودیوه سوچه مسلمان دجوړیدو لپاره زما زیارتراوسه جاری دی اوښکاره ده چی ترمرګه به پرلپسی دوام لری ، زه نور کومه خیالی خبره نه کوم

راګرزی ، خـوځـو ورځـی وروسته هغوی وپوهیدل چی حال بدل دی اوکله چی نږدی دوه کالـه تیرشول نوهغوی پوره اندیښمن شول ،اوس نو هغـوی زمـا پـه کـارونـو کـی دلاسوهـنـی زیـاریـوست ، هغوی زه پوهولم چی له دی لاری ، « اسـلام » نـه واوړم خوزه نوی ځلمی وم ، پرځان می باوروؤ اوبیا په حقه لاره وم نوځکه ددوی ټول زیاربی نتیجی ؤ ، خوهغوی بیا هم لـه مـانـه لاس وانـه خیـست هغوی تریوی مودی پوری له پـوره زوراوفـشـارنـه کـاروا خیـست خوچی ټول وسایل یی بی اغیزی شول نوله خپل ضدنه تیرشول اودایی ومنلـه چی ددوی دکورنی یو غړی مسلمان دی اسلام دفطرت دیـن دی ، کـوم څـوك چـی صـاف سپیڅلی ژوند غواړی هغه ډیـر پـه اسانـی سـره مسلمانیدای شی ، دهغو کـسـانـو چـی ډیـر نـاوړه عادتونه اوعملونه وی هغه په مسلمانیدو کی له مشکل سره مخامخ دی ، لـه نیکه مـرغـه زمـا پـه عـقـیـده اوعادتونو کی له پیله داسی شی نـه ؤچی زمـا داسلام پـه راوړلو کـی راتـه خنډ شی ، ماولیدل چی په اسلام کی څه شی ښه ګڼل شوی وو هغه زما دمخه خوښیدل اوچی اسلام څه شی بدګڼل هغه زما هم بدراتلل ډیـر اسلامـی شعایر له پخوانه په ماکی موجودوو نوځکه ماته اسلام لـه خـپـل فـطـرت سـره سم ښکاره شـو او ورو ورو یـی نیکمرغه لمنی ته ورکښیوتم

په تېرپسې:

دحق په مورچلونو کې څوشپې !

لیکنه اوراپورتاژ : ر- ملاخیل — عکاسي : احمد سینا « احمدي »

دعمر فاروق (رض) دغونډ دسنګرونو دلیدلو په لړکې مو ددښمن د هوایی برید څخه ددفاع په خاطر په لوړ غره کې ځای پر ځای شوی یودوه میله «زیګویك»سنګرته لاړو چې ددې سنګردلوړ همتـه مـجاهدینو له خوا په خورامجاهدانه شان سره استقبال شوو!

دهمدی سنګر په یوه څنډه کې مو چې دپکتیا پریوه لوړغره کې واقع ؤ دحضرت عمرفاروق دغـونډ له سـرپرست حـاجی محمد نسیم سره مرکه وکړه چې زموږ مختلفو نظامی اوسیاسی پوښتنو ته یې په خلاصه تنده او کامل اطمینان ځوابونه راکړل .

دحضرت عمـر (رض) غـونډ دبیـلا بیلو برخـو له لیـدلو وروسته دپکتیا ولایت دیوه بل سترجهادی مرکز (حضرت سلمان فارسی (رض) غونډ په لوری روان شو چې ددې غونډ څخه په خوراکمه فاصله کې دپکتیا داوچتو غرونو په مینځ کې پریوه پراخه ساحـه کې موقعیت لری .

دغه غونډ دمحاربوی غونډونو له ډلی څـخـه دی ، ګـرچې دسابقی په لحاظ دومره پخوانی غـونډ ندی ولی بیـا هم ددې غـونډ مـجاهدینو له تاسیس

څخه وروسته ترننه پوری په پوره میړانه اوشهامت ددښمن پر ضـد مـقـابله کـړی اوپه مختلفو بریدونو اودفاعی حملو کې یې یرغلګرو اودهغـوی مـزدورانو ته خـوله مـاتونکی ګذارونه ورکړی .

ددې غونډ په میلمستون کې چې لـه خـورااوچت تنزئین اوترتیب څخه برخمن ؤ دپکتیا ولایت یوه مکمله نظامی نقشه لیدل کیده چې دمختلفو سیمو خط السیرونه ددښمن دخفیفه

اوثقیـله وسلو مـراکـز چې دمجاهدینو دپاره ستراتیژیکی اهـمـیت لری په خـورا واضح توګه پکې ښودل شوی دی .

دحـضـرت سلـمـان فـارسی (رض) دغونډ دمرکز له لیدو وروسته مـو دنومـوړی غـونډ دهغـه قـرارګـاو دلیدلو په لور حرکت وکړ کوم چې دجګړی په لمړی اودوهـمـه لیکه کې موقعیت لری ، دبړی په سیمه کې ددغـه غـونډ دمـحاربوی کنډکونو عمومی قرارګاه ځای

پرځـای شـوی ، چې دهغی مـجاهدین دخوست دسیـمی پرمـخـتلفـو سنګرونو کې دمزدور رژیم دوروستی جرړو دایستلو په خاطر شپی سبا کوی.

کله چی د« ژوری » دسیمی دجګو غرونو ، تنګو درو ، وچو خوړونو پـه منځ کـی زموږ دسورلی موټر دسلمان فـارسـی (رض) دغـونډ لـه مرکز څخه د«بړی » په لور روان ؤ ، ددی دنګـو غـرونـو اوطبیـعی منـاظرولیـدنـه دافغانستان دژمی سوړشمال په زړونو کی عجیب احساس راپـارولو ، دلاری پـه اوږدو کـی ځـای ځـای هـغـه وران شوی کورونه ترسترګو کیږی چی زموږ ګران هیـواد تـه

دانسان دښمنه روسانو اودهغوی دتالیځتو سوغات دی .

ددښمن دهوایی بمونو اودرنو وسلو پـه تیـره بیا دسکډ میـزائیـلو پـه لړیدلو سره دلاری پـه سرځای ځای کندی جوړی شوی ، دغرونو پـه لمنو کی دهغی دلګیدلو له امله دغـره شـنـه وابـښه اوبوټـی سوځیدلی دی چی دسوځیدو اثاریکی له ورایه ښکاری .

دبړی اودهغی پـه شااوخوا کې مو دمجاهدینو ددرندو وسلو لـکـه غـرنی هـاوان ، د« B.M12 » دستګاه ۷۶ ملی متـری توپ اوشل کاسنګرونه وکتل ، چې مجاهدینو پـه خپل جهـادی شوق له هغوی څخه سـاتنه کـوله اووخت پروخت

په ۲۶ مخ کې

جهادي ادب

ولویدي ککرې یوپربل پسې انبارشولې
لاره دغورځنګ یې په سرو وینو بدرګه کړله
هسې ستر طاغوت یې په مورچل کې رانسکور کړلو
دې مؤمن ولس جګه دټول امت شمله کړله

مناجات

ملااسدالله حنیفي

خدایه ! موږه په دښمن باندي لاس برکړې
بریالي مودجهاد په هرډګرکړې
چي یوموټي،یو آواز اویو قوت شو
داسي کړو داسي عمل ته مو نظر کړې
ستاددي سترامتحان وسه مونشته
راته سهل داپړاوداسفرکړې
چي راټول مودغه خوراوورملت شي
ستره فتحه موترلاسه زرترزرکړې
چي رپاندمو په وطن کي سپین بیرغ شي
راپه برخه خدایه ! دغه سترظفر کړې
چي آزادموله الحاده ټول وطن شي
الهي ته یي ورټول داسور ټغرکړې
حنیفي چي دغفلت په وجه سوړدي
خدایه ! ګرم یي له دردده سورتېتر کړې

تکل

دتوپان پراوزو

جهادګر

چی دکوټی دروازه بیرته شی نودتوند باد یوه داسی سخته څپېره دسړی په مخ ولګیږی چی ساه ورسره بنده اوخبره په خوله کی وچه کړي، داوخت هرڅوك دااندازه لګولی شی چی نن یخنی څنګه قیامت راکوزکړیدی .

لدی سره چی سړی دتودی بخاری له څنګه دهغه سخت کوتل پرتېتردسړی سیلی توپانی څپی په خیال کی راوګرځوی اودباد اوواوری هغه توند اوتوپانی کشمکش ته دزړه غوږونه څك اوډژمی دسختی څیلی دبادونو له بی رحمه څپېړو سره دځان دمقابلی تصور ته دذهن دروازه بیرته کړی نوولړزیږی ، ګبنې یی ونیسی ، ساړه یی واخلی ، وجود یی کرخت شی اودګرمی بخاری په توده فضا کی یی زامی وکړپیږی ، دااحساس ددروازی له هرواربیرته کیدو سره نورهم دسړی اعصابوپه مراندو منګولی ښخی کړ اودهغه دنګ اوواورین غره په سینه کی دمارپیچ کوتل له واورواویخنی څخه یی دوجود رګ رګ ته خبرورکړی .

خوپه همدغه وخت کی دهماغه توند کوتل له واورین تېتر څخه دتوپانی سیلی دلړزونکی باد په څپو کی دمخابری له امواجو یو غږاوریدلی شی ، رسا غږ ، دروند اوهیبتناك غږ ، داسی چی دحالاتو دناکردو په وړاندی داطمینان اوباور انګازی خپروي ، داسی آواز چی دسختیو آوکړاوونو په مقابل کی دزغم اوټینګارازانګی ښندی اوداسی غږچی دمصیبتونو اوحوادثو په مخه کی دحماسو اوقهرمانیو زیری له ځان سره لری .

داغږپدغه سخته څیله اوتوپانی شپه کی ، پدغه واورین اومارپیچ کوتل اوتوره تیاره کی دحق دلاری ، دآزادی دلاری اودعزت اوعظمت دلاری دیوه محافظ له هغه سنګرڅخه دغی تودی خونی ته لاروباسی چی دایوه لسیزه ددغو سختو وختونو اوتوپانی شپو سره غبرګ دوخت پرتندی داستقامت اوټینګارخاطری اویادګارونه انځوروی ، داسی ښکاری لکه چی داغږله سړاوتودو، واوری اوتوپان څخه بی نیازه اوناآشنا وی،نه یی یخنی دارادی په مخه کی خنډ کیدی شی نه واوری اوتوپانونه ، دتوپانونو په اوږوسپورله حوادثو اوڅپو سره تندی جنګوی داغږدژوند اومقاومت دکاروان په مخ کی لکه دجرس سندریزه هنګامه ژوندی اوګرمه ساتی اودکوتل له واورین تېتر څخه دتوندی اوتوپانی سیلی په څپو کی دمقاومت دتداوم ازانګی خپروی داغږددښمن په وړاندی دتندراوخپل ولس ته دداډ اوآزادی اودحق دسنګرونو دعظمت ، بقا اوقوت غږچی ګړی په ګړی دغه ګرمی کوټی ته داطمینان اوباور زیری رارسوی اوپه تودو کوټو کی دارام میلمنو ته دخیریت داډ ورکوی اوهره ګړی پدغه لنډی سره خدای پامانی کوی:

سپینی مانی می خوښی ندی
دپټ ژوندون دننګ مورچل کی تیرومه

* * *

تکل

لوړې شناختې

سیدشهریار

هغی ایمانداری که دژوند پنځوس پسرلی دځان څخه شړلی هم وو خودنااميدی اومایوسی له څپیړی نه یی ځان ساتلی و ، که دخاوند سیوری یی دسر څخه لا پخوا لیری شوی وو خوورسره دځوان زوی دزولنو شرنګاری یی زړه سوری سوری کړی ؤ،خوبیا یی هم ایمان پوخ او زړه یی ډاډمن و .

هغی غریبی لا په هغه وخت کی چی پخپل وطن اوپه خپل کورکی اوسیده هم دبوری اوکونډی دسپیرو ټکو څه پروانه وه کړی چی لااوس به یی وکړی،په هغه وخت کی چی ددغی خونی یو چراغ درافعی ترروری زړه قطره اودافغان قام یو شاځلمی په دی جرم چی په پوهنتون کی یی یوه روسی منصبدار ته دغلامی په ډول سرښکته نه کړولچك ، ولچك اوددغی زهیری موړپه مخکی بند په بند وتړل شو ځکه چی ده ټول عمردبی سرنوشته قام دسرنوشت ټاکلو چیغی وهلی وی جابر ته یی سرنه وښکته کړی اوډظالم حکمران ګریوان ته یی دلاس وراچولو کوشش کړی و .

هو ! دغتهو غتهو چوکیو پیشکشونه هم ورته شوی وو چی پریږده دازړی خبری اوزاړه کارونه دنوی عصر په مترقی اوانقلابی زمانه کی قدم کیږده اودروسانو سور انقلاب دکامیابی ترمنزله ورسوه،خودمسلمانی اوپښتنی موړپه شیدو روزل شوی دغه مسلمان خپله وینه دروسی انقلاب دناکامی اورسوایی لپاره دجلال اباد په محبس کی تویه کړه اعدام ته یی غاړه کیښوده خودپردیو په غلامی اوواکمنی یی اورپوری کړ .

رافعی ترروری هم دمیراتی نوم ته غاړه کیښوده دځوان زوی بندیتوب اوشهادت یی قبول اوسرو کافرو ته په زاریو اوننواتو یی لیاړی ورتوف کړی !

دجمال خان دشهادت څخه وروسته یی دخدای پاك په لاره کی هلو ځلو ته ملاوتړله اوترخپله وسه یی خلك دجهاد لپاره راوپارول. دزلمی جمال خان شهادت هم دقام په ځوانانو کی یو نوی روح پوکړاووینی یی جذباتی اواحساسات یی طوفانی شول.

هوبیا په دغه خونه کی دیوه جمال خان په ځای نورو ډیرو میړنیو دجهاد پلانونه جوړول که دقام زلمو ټوپکی په اوږو اوپمونه ترملاوتړل اورافعی ترروری خپل کور دجهاد دپلانونو مرکزوګرځاوه خودیوه مقصد اومرام لپاره دځانځانی ګټو اومفادو لپاره نه بلکی داسلام دسرلوړی اودقوم دخیر خواهی لپاره!

هو!دډیرو تنکیو ځوانانو وینی تویی اوغوښی یی والوتی.درافعی ترور دجهاد دغه کوزپه بمونو لوټی لوټی، داخلاص اوشفقت دنیا ورانه اودفریب اوچالبازی په تورروختهو کی ونښته،هجرت یی وکړاومسافری یی قبوله کړه.په یو لوی دریابی کمپ ورننوته چی ډیرو خلکو پکی شپی په ورځو بدلولی خودرافعی ترروری شپه په کی چیری هم ورځ نه شوه دیوی سپین سری اوبی وزلی مهاجری دسرپټولو ځای اودګیلی ډوډی له هیچاسره هم نه وه.کله کمانډری اوکله دکونډو کمپ په کمانډری کی به ورته ویل کیدل چی ځه ترروری چیرته دکونډو کمپ ته ولاړه شه دادحساب کتاب شی دی یو چارك غنم هم نه شو درکولای ته لاخیمه اوټمبو غواړی،دلته څه ګډوډی خونه ده داخو ....اوچی دکونډو کمپ ته به ولاړه نوکارکوونکی به یی دخندا څخه شنه شول چی ولی ترروری ته به لاتراوسه نه کونډیدی څه ترروری بیرته افغانستان ته ولاړه شه،تاته څوك څه وایی،ستاسره دچاڅه کاردی خویس دغنمو اوراشنونومواوریدلی دی اوپایڅی موراپورهلی دی .

اوس نوورته په رښتیا چی دکونډی اومیراتی احساس وشو چی په دی وخت کی زما په شان ښځه خامخا کونډه اومیراته ده خوڅه یی کړی وای پتمی سترګی وه،زړه یی ټینګ اواراده یی قوی کړه اوزړه لاره یی دوطن پلوته بیرته ونیوله،ځکه چی په دومره پراخه دنیا کی هیچا هم ورته خپله تنګه پراخه نه کړه اونه ورته چا دتشی خونی لاپه وکړه بس منزل اومنزل کله خیراتی موټر اوکله دکمزورو اوضعیفو پښو منزله دخپل وطن خاوری ته وروورسوله دلیری څخه چی یی په هدیره کی دخپل شهید زوی په قبرلوری شناختی اوړنګه بیرغونه ولیدل نوزړه یی په سینه کی په ټوپونو شو اوداسی یی انګیرله چی ګنی زه دخپل شهید بچی سره مخامخ ناسته یم،قدم یی ګړندی کړو چی په قبر یی وروغوړیږم خوناڅاپه یو درز شو اوددرز سره درافعی ترور غوښی په هوا والوتی،روح یی پرواز وکړاودخپل بچی دلیدلو دهوس تنده یی ډیره زرماته شوه .

خانځاني

امان الله نصرت

خزاني دبیت المال مي ښارماران خوري
څوك مي ویني،څوك مي سرخوري څوك مي ځان خوري
ګډوډي اوبي نظمي ده هري خواته
نن رمي زمونږه ځکه شرمښان خوري
سرنوشت مو تهاکل کیږي جینوا کي
دوطن غم به موکله رهبران خوري
اتحاد په دولس کالو کي ونه شو
که هرڅوهم قسمونه مومشران خوري
هر یوه ځان ته جوړکري سلطنت دي
خوربوطن موخلق-پرچم غوندي دهریان خوري
خودسري ده اوجوړشهرناپرسان دي
څوك وزي خوري څوك پسونه څوك اوښان خوري
بعضو بعضو دي پیلان په بډه کړي
بیا دعوه کاندي چي غم دمسلمان خوري
دکابل میوي شوي پاتي له طوطیانو
نن یي ګوري تورکارغه دهندوستان خوري
دغه واړه نتیجه دځانځاني ده
چي ثمر مودجهاد یو څوکسان خوري
خداي (ج) یي هیروطن یي هیر،قیامت یي هیر دي
په پیسو خرڅوي دین خدایږو ایمان خوري
اي نصرته!چي ساروان یي شي بي لاري
غلچکي تل دهغو خلکو کاروان خوري

لویدیځ پوچ فرهنګ موږته څه راز ده کوي ؟!

رحیمزی

دنړي په وروسته پاتي هیوادوکي نن دادورځي معمول ګرځیدلي چي ځوان قشر باید دلویدیځ فرهنګ اوکلتور څخه تقلید وکړي ، اودهغوي پرپله باندي خپل پل کیږدي !

بدبختانه داسلامي نړي په زیاترو ټولنو اوهیوادوکي هم چي له خپل اصیل اسلامي فرهنګ اوغنا څخه لیري پاتي شوي ، یا په بله اصطلاح اسلامي فرهنګ اوتمدن یي شاته غورځولي غربي فرهنګ اوکلچر په پوره توګه مسلط دي .

ددي ټولنو اوسیدونکي په تیره بیا ځوانه طبقه چي لویدیځ فرهنګ پسي لکه ړانده چرګمان روان دي اودهغوي پرپله باندي پل ایږدي داسي ګومان کوي چي ګواکي ددي تقلید اوړندي پیروي له لاري کولای شي فردي یاټولنیزي نیکمرغي اولوړتیا وي ترلاسه کړي ، اوبه کولای شي پدي توګه دخپل هیواد دپرمختګ اوسوکالي لپاره عملي ګام واخلي .

په تاسف سره باید ووایو چي زموږ په هیواد کي هم له ډیر پخوا څخه دغه مفکوره خپل اوج ته رسیدلي ده چي زموږ دژوند هراړخ باید دغربي ټولنو دژوند نقل وي.دافغان اوانګلیس له دریمي جګړي څخه وروسته کله چي امان الله خان دکابل دتاج اوتخت خاوند شو ، اوخصوصاً وروسته له هغي چي داروپا له سفر څخه بیرته هیواد ته راستون شو ، نوپر افغانانو یي دالازمي وګڼله چي دهغوي دژوند هراړخ ، خوراك ، پوښاك ، درس

اوتعلیم ټول باید په لویدیځ سیستم عیارشي .

دهغه په نظر افغانانولدي لاري کولای شواي دخپل هیواد دپرمختګ اوسوکالي لپاره کاروکړي .

دامان الله څخه راوروسته بیا ترننه زموږدټولني دباسواده طبقي یو مطلق اکثریت په همدي نظریه باندي ولاړ چي لاتراوسه دهجرت په ډګر کي هم ددي نظریي ځیني پلویان اوپیروان لیدل کیږي .

پدي کي دشك ځاي نشته چي لویدیځ هیوادونو (امریکا ، اروپا) دساینس اوتخنیك په ساحه کي خورازیات پرمختګ کړي اوهره ورځ نوي تجربي اوانکشافات ترسره کوي ! ولي ایاددي هیوادونو له کلتور اوفرهنګ څخه په پټو سترګو پیروي کولای شي زموږدهیوادونو یا زموږ دانفرادي ژوند دوروسته پاتي کیدو مخه ونیسي ؟.

که دوروستیو کلونو په‌ترځ کي دلویدیځ کلچر اوفرهنګ ته یو ځغلند نظرهم واچول شي ، ګومان نه کوو چي څوك به هغي ته دترقي یا پرمختګ نوم ورکړي !

حتي اوس پخپله ددغه ټولنو اوسیدونکي هم ددي ډول فرهنګ له اثراتو څخه په ویره کي دي ! پدي ډول ټولنو کي دقتل ،تجاوز ځان وژني اوناروغیو سرسام اوره شمیر اوس اوس داروپايي اوامریکایي‌هیوادو حکومتونه هم په ویره‌کي

اچولي !

دمثال په توګه دامریکا دجورجیا ایالت دناروغیو څخه دمخ نیوي یوي تحقیقاتي اداري دهغه راپور په ترڅ کي چي تیرکال خپورکړي لیکي :

په سلو کي له ١٢ څخه تر ١٥ نوي ځوانان په امریکا کي ددي په لټه کي دي چي څرنګه ځانونه ووژني ، چي ددي شمیریو قاطع اکثریت هم دتعلیمي مراکزوزده کونکي تشکیلوي ، همدي اداري په خپل رپوټ کي زیاته کړي چي دامریکا ٨٩ په سلو کي نوي ځوانان دشرابو په وژونکو مایع باندي معتاد دي همدارنګه دامریکا په سلو کي ١٩ پیغلو نجونو پدي اعتراف کړي چي په‌هغوي باندي جنسي تیري شوي.ایا له داسي ټولني څخه پیروي کولای شي موږته دسوکالي یا پرمختګ لاري وښيي؟

پدي وروستیو کلونو کي که دامریکا اواروپا ټولنو ته وګورو نودابه په وضاحت ښکاره شي چي ددي ټولنو مبتذل فرهنګ ، فحشا ، بربریت اوناروغي څخه پرته بل هیڅ ندي ، دښځي اونارینه حتيٰ نارینه ؤ په منځ کي دجنسي روابطو ازادي ، زموږ وروسته پاتي ټولنو ته څه راکولای شي ؟

دایدز وحشت ناکه اووژونکي ناروغي چي اساسي عامل یي فحشا اوجنسي روابط دي ددي فرهنګ اوکلتور

یوبل سوغات دي چي دي ټولنو ته وربه برخه شوي په امریکا کي دیوي سروي له مخي ویل شوي چي د١٩٩١ میلادي کال ترپایه به ٤٨٠٠٠٠ کسه امریکایان دایډز په ذلیله اووژونکي ناروغي اخته شي چي لدي ډلي څخه به ١٧٠٠٠٠ کسه دهمدي کال ترپایه ددي ناروغي له امله ومري !

دادي دلویدیځ مبتذل کلتور سوغات ، چي انسانانو ته یي راوړي ! تردي هم لا جالبه اوپه زړه پوري داده چي اوس په امریکااواروپا کي یو نارینه له بل نارینه سره درسمي (واده) غوښتنه کوي .

لري چي دامریکي په قانون کي دهم جنسانو دواده څخه ممانعت ندي شوي !!

تردي هم جالبه اوهم دردونکي بل خبر واوري چي یوي پاکستاني مشهوري ورځپاني دکومي امریکایي جریدي په حواله تیرکال خپورکړي ، پدي خبر کي راغلي چي دامریکي په یوه ښارکي یوه ښځه له خپل عاشق (بواي فرینډ) سره په معاشقه لګیاوه ، پدي وخت کي ددي ښځي ماشوم ژاړي ښځه لدي لپاره چي ماشوم ددوي داعمالو مزاحم نشي ، هغه په یخچال کي ږدي اوخپل کارته دوام ورکوي ، یوه شیبه وروسته یي ماشوم په یادیږي چي

شکل کي دهغوي لمني ته ورلویدلي ، په یوه ټولنه کي چي دهغي له نوي ځوان څخه نیولي ترسپین ږیري په جنسي ناروغي اوالکولو

عادت وي ، دخپل شهوت دارضأ لپاره موردخپل ماشوم دژوند پروا هم نلري ، دبي ثباته ژوند څخه دخلاصون

لپاره په ځان وژنه لاس پوري کول ، ورځني مشغولتیا ګرځیدلي وي هغه نورو ټولنو ته څه ورزده کولای شي !

واضح خبره ده چي ددي ډول ټولنو له فرهنګ اوکلچر څخه تقلید موږته هم پرته له هغه څه نه چي ذکرشول څه بل سوغات نلري .

داسلام سپیڅلي دین له اساساتو څخه پیروي اودخداي (ج) اومحمد (ص) داراشاداتو په مطابق

امریکني جریدی (ننني امریکا) یا (U. S.A TODAY) دتیرعیسوي کال په یوه ګنه کی لیکلي چی دوه ځوانانو ٢٧ کلن « ګریك این » او٢٣ کلن « پیترك ګل » دمتحده ایالاتو په یوه محکمه کی درسمي نکاح نامی غوښتنه کړی !.

امریکني جریدي (ننني امریکا) یا (U.S.A TODAY) دتیر عیسوي کال دنومبر دمیاشتي په یوه ګنه کي لیکلي چي دوه ځوانانو ٢٧ کلن « ګریك این » او٢٣ کلن « پیتریك ګل » دامریکي دمتحده ایالاتو په یوه محکمه کي درسمي نکاح نامي غوښتنه کړي !! هغوي پدي ټینګارکوي چي دوي دواړه له یوبل سره «مینه » لري اوله محکمي څخه دیوه ښځي اوخاوند دحقوقو غوښتنه کوي !! دوي ادعا

کله یخچال ګوري ، ویني چي ماشوم له دینا نه سترګي پټي کړي !

دغه ده پدي ټولنو کي دانساني ژوند نمونه ښځه خپل ماشوم ددي لپاره وژني

چي ددي په معاشقه کي خلل رانه ولي !!

دغربي مبتذل کلتور اوفرهنګ اساسي بنیاد ،هماغه دښځي اونارینه مختلط نظام دجنسي روابطو اواعمالو بي قید وشرط ازادي تشکیلوي ، چي دهغي نتیجه نن دایډز په

ژوندکول هغه یوازیني لاره ده چي کولای شي ټولني

دسوکالي اونیکمرغي لاري ته هدایت کړي دوروسته پاتي ټولنو په تیره بیا اسلامي ټولنو دټولو دردونو درمان یوازي داسلام سپیڅلی دین دي ، نه

دلویدیځ له مبتذل اوپوچ فرهنګ څخه په پټو سترګو پیروي اوتقلید .

دپرله پسی واورو اوباران له امله دافغانستان په ٢٥ ولایتونو کي دحرارت درجه منفي صفر ته راکوزه شوی

دهغی راپور په اساس چي ــــ له شمالی ، مرکزی اوجنوبی افغانستان څخه « میدیا » ته رارسیدلی ویل کیږی چي دځوورځو پرله پسی واوری ، اوباران له

امله دتودوخی درجه منفی صفر ته راکوزه شوی اوپه مختلفو سیمو کي له ٣ څخه تر ٨ فته پوری واوره شوی ، چي دمجاهدینو اکمالاتی لاری په سترو سیمو کي بندی کړی همداراز دبغلان

ولایت یوه قوماندان په خپل مخابروی پیغام کي ویلی چي دواوری اوزلزلی له امله په شمالی سالنګ (خنجان ، پیازکول ، سیغان اوکهمرد) سیمو کي یو زیات شمیر کورونه ترخاورولاندی شوی

، پدی هکله دځانی اومالی تلفاتو دقیق معلومات تراوسه ندی ترلاسه شوی .

پیمان ازکارافتاده وارسا منحل میشود

روسیه پیشنهاد نموده است تاپیمان وارسا که درسال ١٩٥٥ بخاطرانسجام سیاسی ونظامی کشورهای بلاك کمونستی اروپای شرقی ومقابله باپیمان اتلانتیك شمالی یاناتو ایجاد گردیده بود تااوایل ماه اپریل سالجاری منحل گردد .

گرباچف زمانی مجبور به اعلان انحلال پیمان وارسا گردید که پنج کشور عضو یعنی پولند ، چکوسلواکیا ، مجارستان ، رومانیا والمان تصمیم.قطعی خود رامبنی

برخروج ازپیمان وارسا اعلام نمودند .

کرملین گفته است امید واراست اعضای بعد ازانحلال پیمان با امضای موافقتنامه های ذات البینی که جانشین قوماندانی مشترك گردد روابط خود را حفظ نمایند اما برخلاف پولند اعلام نموده است که انکشور دراینده درهیچ پیمان شرکت ننموده بلکه بیطرف خواهدبود همچنان چکوسلواکیا نیز گفته‌است‌که طرفدارعضویت درپیمان ناتو

میباشد .

قراراست انحلال پیمان وارسا درپایان جلسه وزرای خارجه ودفاع کشور سابق عضو این پیمان رسما اعلام گردد .

مسکو تحت نام پیمان وارسا هزارها عسکر اشغالگر راباهزاران تانك درکشورهای عضو جابجا نموده وتمام قیامهای‌ازادیخواهی راوحشیانه سرکوب نموده است اما بعدازشکست ماشین نظامی روسها درافغانستان جنبشهای ازادی خواهی یکایك دراروپای شرقی به پیروزی رسیده پیمان مذکور عملا ازکارافتاد وگرباچف جزانکه گویارسما انحلال انرا اعلام نماید چاره دیگری نداشت .

کشمیری مجاهدینو (٣٦) هندی پوځیان ووژل اوپه لسګونو یي ټپیان کړل

لندن :

دنیول شوی کشمیر د« بډګام » په سیمه کي دکشمیری ازادی غوښتونکو مجاهدینو اوهندی پوځیانو ترمنځ یوه سخته جګړه وشوه ، چي په نتیجه کي (٣٦) هندی پوځیان مړه اوپه لس هاوونور ټپیان شول .

دکشمیر بین المللی اژانس په حواله ویل شوی چي دکشمیر مجاهدینو په یوه ناڅاپی حمله کي هندی پوځیان راګیر کړل اوترڅو هغوی ته نوره مرسته ورسیده مجاهدین خپلو پټو سنګرنو ته ورسیدل.

ددی جګړی په دوران کي دکشمیری مجاهدینو یو منطقوی قوماندان «عاصر» دځلورو ګولیو په لګیدوسره په شهادت ورسید .

جزئیات مزید تلفات وخسارات زلزله وسیلاب درکشور

زلزله وسرازیرشدن سیلاب های اخیر درکشور موجب مرگ وویرانی فراوان درافغانستان وپاکستان گردیده است درروزهای اول واقعه به نسبت سردی هوا ومسدود بودن راهها جمع اوری تمام ارقام مرگ وخساره ناممکن بوده بنابمرورزمان جزئیات تلفات وخسارات وارده برملامی گردد.

به همین سلسله گزارشهای رسیده حاکیست که درپنج قریه جنوب فیض اباد مرکز ولایت بدخشان بیست وشش نفرهلاك ودوصد وپنجاه منزل مسکونی خساره مند ویکصدوپنجاه خانواده بی خانمان گردیده اند همچنان راپورهای واصله ازولایات لغمان، پروان، ننگرهار وکنرحاکی ازتلفات وخساراتمیباشد درولسوالی های شینوار ولعل پور ولایت ننگرهار ازچهل تاپنجاه نفرهلاك شده است.

رادیو بی،بی،سی ضمن تبصره پیرامون تلفات این دوحادثه گفته است دفاترملل متحدوسایر سازمانهای امدادی تلاش می نمایند تابه اسیب دیده گان کمك برسانند.

طبق گزارشها درپانزده قریه اطراف بریکوت شش نفرهلاك یکصدوسی نفر مجروح ویکصد وهشتاد وهشت منزل خساره مند وبیش ازچارصد راس مواشی ازبین رفته است همچنان ازسایر قرای ولایت کنرنیز راپورحاکیست که ازده تاپانزده درصد منازل درین ولایت دراثر زلزله ازبین رفته است.

گزارشهای مطبوعاتی حاکی ازین است که کارکنان ملل متحد وسایر سازمانهای که درناحیه بمردم کمك می رسانندخواستارکمکهای عاجل اولیه بشمول پوشاکه گرم، خیمه، ادویه وخوراکه باب شده اند.

راپورهای واصله ازناحیه سیلاب ازولایات جنوب غرب کشورحاکیست که سیلابها درهلمند، زابل، نیمروز، کندهار وفراه موجب خسارات فراوان گردیده است.

گفته شده است که درولایت نیمروز ساحه شش کیلومتر زیراب امده است ونیز درولایات ومناطق مرکزی افغانستان دراثربارانهای شدید واب شدن برف سیلاب سرازیر گردیده وسبب ابخیزی دریا های هلمند، ارغنداب وارغستان گردیده است.

رادیو بی، بی، سی درگزارش خود گفته است موسسات انگلیسی که کمکهای بشری رابمردم افغانستان تنظیم می نمایند ازجهت وارد امدن تلفات وخسارات زیاد بمردم ابراز تشویش نموده اند مسوول تنظیم کمك به مردم افغانستان درانگلستان گفته است موسسات کمك کننده بشری به مردم افغانستان فیصله نموده اند که به اسیب دیده گان زلزله وسیلاب درافغانستان لباس مواد خوراکه، خیمه وادویه بفرستند این موسسات همچنان منتظر اند بدانند که مصیبت دیده گان بیش ازین بکدام چیز ضرورت دارند.

رادیو گفته است دولت انگلستان نیز به اسیب دیده گان زلزله وسیلاب درافغانستان وپاکستان ۱۵۰ هزارپوند تخصیص داده است.

طبق یك گزارش دیگررادیو بی، بی، سی موسسات امدادی مستقیم درپاکستان سرازیرشدن سیلاب رادرطول چهل سال گذشته بی سابقه خوانده است.

سازمانهای مذکور نیز گفته اند که درجنوب غرب افغانستان به اراضی ومواشی به شهرها ومناطق چه تحت اشغال رژیم کمونست کابل وچه ساحات تحت حاکمیت مجاهدین تلفات وخسارات سنگینی وارد امده است.

جریده مجاهد دراخرین شماره خویش ارقام تلفات وخسارات زلزله رادرشمال کشور به نقل ازراپورهای شورای نظار انتشارداده است جریده مجاهد نوشته است: دراثرزلزله شب جمعه ۱۹ دلو ٦٥ نفر ازاهالی درمناطق مختلف صفحات شمال کشوربه شهادت رسیده و۱۹۱ نفردیگر مجروح گردیده اند همچنان دراثر این زلزله ۲۳٦۰ منزل مسکونی وشش محراب مسجد منهدم ۱۱۸۱۲ راس مواشی تلف گردیده است.

جریده تلفات انسانی وخسارات مالی رابه تفکیك مناطق باجزئیات انتشارداده

له غروره ډك...

یوه یخ ژمي کي د۱۸٤۲ کال دجنوري په ٦ نیته له خپل هیواد څخه وایستل اوداسي شرمیدلي یي ترپوله واړول چي ترشاکتلو جرات یي نه وُ داڅکه چي:

خداان ملتي راسروري داد
که تقدیرش بدست خویش بنوشت
باان ملت سروکاري ندارد
که دهقانش براي دیگران کشت

دکندز مرکزتربرید لاندي ونیول شو

دکندز له ولایت څخه خبرورکړشوی چی ددی ولایت زړورو مجاهدینو دکندز ولایت پرمرکز دخپلو درنووسلو په واسطه برید کړی

برید په نتیجه کی چی ددغه ددلوی شلمه نیته ترسره شوی دکندزښارپه یو کیلومتری کی دمزدور رژیم دروغتیا مرکز تباه اودوه امنیتي پوستی یی ویجاړی کړی دی.

دحق په مورچلونو کي..

ددښمن په مرکزونو باندی بریدونه هم کوی.

په هغه مازیګر چي مورږ دغرنی هاوان له سنګرڅخه لیدنه کوله، زموږترورتلو لړوراندی مجاهدینو دخوست له ښارڅخه لرلری دمصلی پوستی په نوم، ددښمن پریوه مرکز باندی ډزی وکړی چي ددښمن دالبسی یوه ډیپو کی اوورلګیدو، داور لمبی دومره جګی وی چي له خورالری فاصلی څخه هم په وضاحت ښکاریدی! که څه هم پدي ډیپو کي دځانی اومالی تلفاتو څه موثق خبر موتر لاسه نکړای شوای ولی داورله اوچتو لمبو څخه داسی معلومیده چي خامخا به څه شوی وی.

همدارنګه د«بړی» په سیمه کي موږچی له خوست څخه به (تقریباً لس) کیلو متره فاصله لری، دشهیدسلیمان شاه دزرهدارغونډ څخه هم لیدنه وکړه.

په دغه غونډ کي لکه څرنګه چي له نوم څخه یي ښکاری هغه زغره وال محاربوی ټانکونه چي له روسانو اومزدور رژیم څخه نیول شوی ځای پرځای دي، دلږ تخریب شویوټانکونو دترمیم اوفعالولو لپاره، تخنیکی افراد لری، اوددی ټانکونو څخه ددښمن په مقابل کي استفاده کوی.

دتوری غاړی

په غرونو کي هم دمجاهدینو سنګرونه شته، چي دخوست ښارپه (یونیم) کیلومتری کي واقع ده، دتوری غاړی په غره کی دمزدوررژیم مربوط دخوست ښاردامنیتی کمربند مظبوط سنګرونه اوپوستی وی چي د۱۳٦۸کال دحوت میاشتی په لومړیو کي دمجاهدینو له خوا دپرله پسی محاصری اوعملیاتو څخه وروسته فتح شوی، اواوس په هغه ځای کي دمجاهدینو ددرنو وسلو پاخه سنګرونه ځای پرځای شوی دي.

دبړی څخه «توری غاړی» ته دتللو لپاره هم لکه دپکتیا دنورو سیمو په شان دافغانستان دجګو غرونو په منځ کی دمجاهدینو په لاس دجوړی شوی لاری څخه استفاده کیږی، شنه اوسپیره دنګ غرونه پراخه وچی دښتی، له انسانانو پرته کلی کورونه هغه یوازینی منظره ده چی نه یوازی دپکتیا بلکه دټول افغانستان په زیاتره سیمو کی دسفر په وخت ترسترګو کیږی، دلاری په اوږدو کی ځای پرځای دیوه دوه، یازیاتو قبرونو شته والی چی شنی اوسپینی جنډی پری ځړیږی، دشلمی پیړی دچنګیزیانو دتاړاك اووحشت

هغه داستان بیانوی چی دګران افغانستان په ګوټ ګوټ کی ترسره شوی.

پدی متفرقه اویکه قبرونو کی هغه مظلوم اونوم ورکی شهیدان هم خبښ شوی چی داسلامی نړی له ګوټ ګوټ څخه دجهاد په سپیڅلی احساس دافغانستان شهید پالونکی خاوری ته دجهاد په نیت راغلی، اودلته ددښمن بزدلانه غلچکی کمینونو، یاهم دناڅاپه هوایی برید له امله دشهادت لوړمقام ته رسیدلی.

دتوری غاړی په اوچتو څوکو کی دمزدور رژیم وران شوی سنګرونه (چی اوس دمجاهدینو په سنګروبدل شوی) دړژیم دقواوضعف اوماتی له ورایه ښکاروی، ترڅمکه لاندی اودغرونو دستروتیږو څخه جوړشوی سنګرونه وران اوفعال ټانکونه چی اوس یی مجاهدین دخوست ترمحاصری لاندی ښاربانډی استعمالوی، دزبون دښمن د«انقلابی پوځ» !! له قوی مورال اوروحیی څخه حکایت کوی!

کله چی دموږرله یوه اوږده مزل څخه وروسته په توره غاړه کی دباشهامته مجاهدینو سنګرونو ته ورسیدوهرڅوك مو په یو کاربوخت لیدل، چادراتلونکی شپی دبرید لپاره چی ددرنو وسلو په وسیله ددښمن پرپوستو ترسره کیدو، ددوربین په واسطه ددښمن مواضع اوهدفونه تعینول، یوی ډلی هم دخپلو درنو وسلو دځای پرځای کولو لپاره دغره په څوکه کی سنګرونه جوړول، اوچا هم دمزدور رژیم له پوځ څخه دپاتی شوی یوه جوړاویوه ناروغ ټانك سره مستی کوله، پداسی حال کی چی دغره له څوکی ددښمن مرکزونه دخوست په ښارکی ښه معلومیدل، هره لحظه اوهره ګړی دهغوی له خوا دهوایی یاځمکنی برید ویره هم احساسیده.

دمجاهدینو دهرفرد په خوله دفتحی موسکاوه اودهغوی پرتهنلو دایمان اخلاص اوصداقت نښی له ورایه بریښیدلی.

له هیچاسره هم ددی ویره نه وه چی په راتلونکی لحظه کی څه پیښیږی، هریوه په کامل اطمینان سره خپلی دندی ته ادامه ورکوله.

دتوری غاړی له سنګرونو څخه مو ددوربین په واسطه دخوست دښار ننداره هم وکړه چي په هوایی ډګر کي دمجاهدینو له خوادغورځول شویو اوتخریب شویو الوتکو انبارددغه رژیم دشرمیدلی ماتی اورسوایی ښه ښکارندویي کوله دتوری غاړی په سیمه کي دمجاهدینو پخوسنګرونو په خوست کي له پوره مجهزتوب سره سره درژیم دقواو له ضعف اوعاجزی څخه پرده پورته کوی اوداثابتوی چي دحق لاری سپاهیان دتوری شپی پرساتونکو باندي همیشه غالب اوفاتح دي. (پای)

مجاهدینو دخپلی عقیدی اوایمان په قوت د زیاتو قربانیو په نتیجه کی سره اردو ماته کړه

«استادسیاف»

دافغانستان څخه دروسي قواو دوتلو سره سره روسانو دافغانستان په وړاندی په خپل سیاست کي بدلون نه دی راوستی

«مولوي خالص»

مجاهدینو جهاد یوازي دروسي قواوده‌ویستلو اودکوم شخصي قدرت ته درسولو اویا دپخوانیو بدنامو حکومتونو دبیرته قایمولو لپاره نه و پیل کړي ، بلکه مجاهدینو جهاد په افغانستان کي دیو اسلامي حکومت دقایمولو ، جوړولو اوټینګښت په خاطر شروع کړي اوددغه سترهدف دترلاسه کولو لپاره په خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

پیښور د دلوی ۲۵ : دافغانستان دمجاهدینو دعبوری حکومت صدراعظم اوداسلامی اتحاد امیر محترم استاد سیاف په هغه غونډه کې چی له افغانستان څخه دروسی قواوُ دتیښتی اووتلو ددوهمی کلیزی په اړه دجلوزو په کمپ کې جوړه شوی وه وویل: روسانو پرافغانستان تیری وکړمګرمجاهدینو دخپلی عقیدی او ایمان په قوت اودزیاتو قربانیو په نتیجه کی سری اردو ته ماته ورکړه

استاد سیاف دخپلو خبرو په ترځ کی وویل: مجاهدینو جهاد یوازی دروسی قواوُ دویستلو اودکوم شخصی قدرت ته درسولو اویا دپخوانیو بدنامو حکومتو دبیرته برحال کولو لپاره نه وُ پیل کړی بلکه مجاهدینو جهاد په افغانستان کی دیو اسلامی حکومت دقایمولو اوجوړولو اوټینګښت په خاطر شروع کړی اوددغه سترهدف دترلاسه کولو لپاره په خپل جهاد ته ادامه ورکوی.استاد سیاف دخلیج دمسلی په اړه وویل :

دکورنیو چارو وزیر اودافغانستان داسلامی حزب امیرمحترم مولوی محمد یونس خالص هم ګډون کړی وُ .

نوموړی په خپلو خبروکی وویل : له افغانستان څخه دروسی قواو دوتلو سره سره بیا هم روسانو دافغانستان په وړاندی پخپل سیاست کی بدلون نه دی راوستی .

مولوی صاحب زیاته کړه : روسان اوس هم دافغانستان په ویجاړولو بوخت دی اودهمدغه هدف په خاطر یی له یوی خوادسکړ په شمول ماینونه ښخ کړی دی .

مولوی صاحب دخپلو خبرو په یوه برخه کی وویل : روسانو دخپل شوم پلان له مخی دروس اوامریکا ترمنځ دخلیج دهیوادونو دویشلولپاره صدام حسین پرکویټ باندی حملی ته وهڅاوه خودصدام حسین ددغه اقدام ټوله ګټه اسرائیلو ته رسیږی .

خبریال زیاتوی چی په دغه غونډه کی دمجاهدینو دعبوری حکومت ددعوت اوارشاد وزیر او دجمعیت اسلامی افغانستان دسیاسی کمیټی رئیس ډاکترنجیب لفرایی هم دموضوع په ارتباط خبری وکړی.

روسانو دخپل شوم پلان له مخی دروس اوامریکا ترمنځ دخلیج دهیوادونو دویشلو لپاره صدام حسین پرکویټ باندی حملی ته وهڅاوه ، خودصدام ددغه اقدام ټوله ګټه اسرائیلو ته رسیږي؟

اوهغه یی له خپلی خاوری څخه تیښتی ته اړکړه خودروسانو لاسپوڅی حکومت لاتراوسه هم په افغانستان کی موجود دی .

دامریکا اوهغه دمتحدینو له خوا دعراق دښارونو بمباری کول یو ناوړه عمل دی .

په دغه غونډه کی دمجاهدینو عبوری حکومت

ډول ډول درنی وسلی دخپل مزدوررژیم په واك کې ورکړی اوهمدارنګه یی دافغانستان دخلکو دمرګ ژوبلی لپاره په ملیونو

د « سروبي » او «نغلو » په سیمه کي ددښمن نظامي مراکز تربرید لاندي ونیول شول

دکابل ولایت دسروبی ولسوالی څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی چی زړورو مجاهدینو ددلوی په ۲۲ نیټه دخپلو مشترکه عملیاتو په ترځ کې د(شیرخانی سیمه) اودسروبی بند برق ته نژدی دمزدوررژیم امنیتی اونظامی پوستی

تربرید لاندی ونیولی چی په نتیجه کی ددښمن دوه پوستی له ټولو وسایلو اوامکاناتو سره له منځه لاړی

ددی برید په ترځ کې دسروبی دبرق تولیدولو دستګاه اوبند برق ته هم زیان ورسید اوله فعالیت څخه وغورځیدل .

په همدی ورځ د« نغلو دبرق » پربند چی دسروبی په شمال لویدیز کی واقع دی مجاهدینو ددرنو وسلو دبرید له امله ددښمن د (توپچی غونډ) مراکز چی پدی سیمه کې ځای پرځای شوی وو ، له منځه یوړل شول .

دمجاهدینو یوی منبع میډیا ته خبر ورکړی چی ددښمن توپچی قواوُ چی پدی وروستیو کلونو کی یی دنغلو اوسروبی دبندونو په څنګ کی خپل سنګرونه جوړکړی وُ د« اوراګان » او«سکاډ » راکټونو په وسیله دسروبی ولسوالی اودتګاب اوکوه صافی په سیمه کی دمجاهدینو سنګرونه تربرید لاندی نیول ، چی دمجاهدینو ددی برید په نتیجه کی په پراخه اندازه زیانمن شول ، اوډیر ځانی اومالی تاوان ورواښت .

میډیا :

دروسی پوځونو دشرمیدلی ...

اوچانسونه له لاس څخه ووتل ،اوس چی موږ دروسی پوځونو دشرمیدلی ماتی دوه کاله وروسته حالات ګورو ددی غوښتنه کوی چی نور وخت اوحالات دډیر انتظار حوصله نلری اوځومره ژرچی کیدی شی دټولو جهادی قوتونو دهراړخیز یووالی له لاری دیوه عملی ،دقیق اوریښتینی حرکت له لاری دازادی دروان کاروان په مخه کی دجرس هنګامه توده کړو . ومن الله التوفیق

دامت پر ټټر یوبل ...

غوښتنی اومنفی سیاستونو په نتیجه کي داسلامي امت دکمزورتیا له پاره داستعماری قوتونو دسازشونو له مخی څومره خونړی بنه غوره کړه هغه به داسلامي امت له پاره تردیره نه یواځی دترخوخاطرو په توګه مطرح وی بلکي ددغه تباه کوونکی جګړی منفی اثرات دهغه څپاند اوانقلابی غورځنګ له پاره هم سخت تاوان ثابت شی چي په اسلامي امت کي دافغانستان دجهاد اوددغه مسلمان ملت دقربانیو اوسرښندنو له برکته رامنځته شوی وُ .

دجګړی جریان هم په ډاګه کوی چي ددغه جنګ ټول تاوان اوضرر اسلامي امت ته اوړی څومره چي داجګړه اوږدیږی اسلامي امت ته په هماغه اندازه تاوان رسیږی اوله شدید وضربو سره مخامخ کیږی ، ددی په مقابل کي ددغه جګړی ګټه به سرکي اسرائیلو اوداسلام دښمنانوته اوړی ، دامریکا لومړی هدف هم له اسرائیلو څخه دهغه همیشنی خطر مخه نیول دی چي دبین المللی صهیونیزم له پاره لدی ناحیی څخه متوجه وُ .

اوس چي دعراق له درنی تباهی وروسته صدام دملګرو ملتونو (٦٦٠نمبر) قطعنامی دمنلو له مخی له کویټ څخه دخپلو پوځونودایستلو شرایط اعلان کړی ، داسلامي امت فرض دی چي په یوه اوازاوګډو هڅو سره داسی حالات رامنځ ته کړی چي څومره ژرکیدی شی په سیمه کي جنګ پای ته ورسوی ، پرعراق دوحشیانه بمباریو سلسله پای ته ورسیږی اوله کویټ څخه عراقی پوځونه وویستل شی .

دعراق دااعلان چي دانقلابی شورا په حواله دبغداد راډیو خپورکړی اودهغه په ترځ کي یي دملګروملتونو د٦٦٠ نمبر قطعنامی دمنلو څرګندونه کړی داهم ورسره زیاته کړی چي له اوربند څخه یوه میاشت وروسته باید اتحادی پوځونه له خلیج څخه ووځی ، همدارنګه له نیول شویو عربی سیمو څخه اسرائیل اوله لبنان څخه دسوریي پوځونه وایستل شی ، اسرائیلو ته دامریکی له خوا ورکړی شوی اوسنی وسله بیرته واخیستل شی اودعراق پرخلاف ټول لګول شوی بندیزونه لیری کړی شی دعراق دااعلان دبش له خوا یوه (ظالمانه ټوکه) ګڼل شوی اوله عراقی ولس څخه یی غوښتی چي دجنګ ترپای پوری دصدام رژیم نسکور کړی دامریکا ددفاع وزارت هم دصدام پرضد دجګړی ددوام څرګندونه وکړه اوسعودی هم داشرایط رد کړیدی .

که څه هم دبغداد په موجوده اعلان کي څه نوی ټکی نه لیدل کیږی اوداسی ګڼل کیږی چي دمخکنیو خبروتکراروی خوبیا هم دوی خبری پکی داسی دی چي دغوروړسنکاری لومړی داچي دااعلان دصدام له خوا ندی خپور شوی اونه هم دصدام له خوا لدغه اعلان وروسته کوم عکس العمل ښودل شوی.دوهمه داچي عراق له خپل هغه پخوانی دریځ څخه تیرشوی چي کوَیټ یي خپل ۱۹ ولایت ګڼه سره لدی چي دملګروملتونو په ٦٦٠ نمبر قطعنامه کي داخبر په ډاګه ده چي عراقي پوځونه باید بی له کوم قید اوشرط څخه له کویټ څخه ووځی .

پدی لړکی دبعضو اړخونو له خوا پداسی حال کې چي اتحادي پوځونه له یوی میاشتنی قوی جګړی وروسته دځمکنی جګړی لپاره تیاری نیسی دعراق دااعلان یوجنګی تاکتیك هم ګڼل شوی خوبیا هم دااعلان دامیدیوه تته وړانګه ځلولی اوکه ملګری ملتونه اواسلامي کنفرانس یوبل قدم هم وړاندی شی اوبی لدی چي وخت ضایع شی په جدی اقدام لاس پوری کړی کیدای شی دجنګ فتنه ختمه اوپه سیمه کې سوله رامنځ ته شی .

استعمارښایی لاخپلو اهدافو ته پوره نه وی رسیدلی اوپه سیمه کي دسولی په ټینګیدو ناخوښه وی خودایو ښکاره حقیقت دی چي دجنګ ادامه داسلامي امت لپاره دداسی یوه ګواښ بڼه غوره کولی شی چي موجودیت به یی هم له خطرسره مخامخ کړی ،

دروسي پوځونو دشرمیدلی ماتې دوهمه کلیزه ...

مقاومت محال گڼله دویتنام جګړې هغوی ته له کمونیزم سره مقابله ناشونی ګرځولی وه له همدی امله یې دروسي لښکرو دتیری په وړاندي عکس العمل ډیرسوړ اوداعکس العمل یې یواځې دسپورټي لوبو اوروسیې ته دغلي صادرولو دتحریم په بڼه وښود اوتورپي افغانستان دروس دنفوذ په ساحه کې ځکه چې دروس یوه سپوږمۍ وګڼله اوپه رسمی توګه یې دااعتراف وکړچې باید امریکا اوغرب دپاکستان دفاع ته پام واړوي اوخپل صلاحیتونه دافغانستان په رابطه ضایع نکړي .

خوافغانانو ته دخپل دین اووطن مسله په مخ کې پرته وه دهغوی که لاس تش ؤ خوونه یې ګرمه اوقربانۍ ته لیوالله وه ، که څوك یې ته لرل اویې کفعه وړ خوپرخدای توکل اودخپل ایمان ږاو اوقوت ورسره ژاوپه همدغه اتکا دجهاد اومقابلې په ډګرکی ودریدل ، دروسي پوځونو له یرغل سره مقاومت نورهم پیاوړی اوځواکمن شواودهیواد هرکمر اوهربرنې دآزادۍ یوه پیاوړی اوقوی سنګربدل شو ، په میاشتو کې دمقاومت دخپلو خبره کلونو ته واوښته اودیوه بل ویتنام په جګړه داخل دروسانو دپښو دښکیلولو زمزمې راپورته شوی .

دلته ؤچی دغرب سترګی خلاصی شوی اوپخپلو سیاسي تحلیلونو اوارزیابیو یې بیا کتنی ته اړه ولیده ، اوله کمونیزم سره دمقابلی اومقاومت امیدونه ورسره پیداشول .

روسانو دزور ، زرو اوتزویر ټولی حربی اومانوری په کارواچولی دخپلو ګوډاګیانو اومهرولو بدلولو رابدلولو راواخله دژنیو ترمذاکراتو پوری یې هری حربی ته لاس اوږد کړ ، خودخپل محتوم شکست مخه یې ونشوی نیولی .

روسي تیری کوونکی پوځونه له لس کلنې خونړۍ جګړې وروسته په ټیټ سر له افغانستان څخه ووتل اوافغان مجاهد ولس دیوه فاتح اوقهرمان ولس په توګه دمبارزی په سټیج دخپلو ویښو په تویولو دخپلې مثالی فتحی مشالونه بل کړل .

دروسانو دغه شکست په ټوله نړۍ کی دکمونیزم دماتې پیلامه وګرځیده دافغانانو برین مقاومت دډیرلو ایللو ولسونو له پاره دوینتابه دیوه ځواکمن غورځنګ پیغام خپورکړ .

دافغانانو له مقاومت اوقربانیو څخه نړیوالو الهام واخیست له ختیځې اروپا څخه دکمونیزم جنازه وایستل شوه دروسیي دننه دآزادۍ غوښتنې غورځنګونه په پښو ودریدل اوپیاوړی شول .

خوافغانانو چې ټولې نړۍ ته دآزادۍ درس ورکړ اودډېرو دقربانیو اوپښو له برکته دکمونیزم دوحشت اواستبداد ځنځیرونه ټوټې ټوټې شول له بده شامته دخپلې قربانۍ نتیجې ته لا دانتظار سترګی په لاره دی .

حقیقت دادی چې دروسي لښکرو له وتلووروسته جهادي قیادتونو په داسې مثبت ابتکار لاس پورې نه کړچې له هغې څخه اعظمي استفاده وکړی شي بلکې په یو داسې کمزوري چوکاټ کې یې دحکومت اډانه کینښوده چې نه یې دنړیوالو پام ځانته راګرځولی شو اونه یې دولس قناعت حاصل کړی شو چې په راوروسته کې له همدغه حکومت سره دقیادتونو عدم همکاری اودحکومت له خوا په خپلو تعهداتو عمل نه کولو مسله نوره هم دکړکیچ خواته بیل وهله ځکه خودادی هغه ملت چې دروس غوندی جابر اواستعماری پوځ یې په ګونډو اوشاتګ ته مجبورکړله دووکلونو وروسته هم دیوه واحد مثلی ، رنوښتګر اوهراړخیز حرکت دنشتوالی له امله دخپلو آرمانونو په لارکې له ګنومشکلاتو سره مخامخ دی اودیو نیم ملیون شهیدانو په وینو ګټلی وجنګ دوروستی اوښیپړ بری په مخه کې دښمنانو اوګنهونو عوامل رامنځ ته شوی ، چې له همدې امله یې بنایسته ډیر مناسب فرصتونه

دمحمد آغی ولسوالی مجاهدینو دپل قندهاری پرپوسته برید وکړ

لوګر ، میډیا :

دلوګرولایت دمحمد آغی ولسوالی څخه په رارسیدلیو خبرونو کې ویل شوی چې مجاهدینو ددلوی دمیاشتی په شمله نیټه پدی ولسوالی کې دمزدوررژیم پریوه نظامی پوسته چې (پل قندهاری) په سیمه کې واقع وه برید وکړاوددرنووسلو په انداخت سره یې دغه پوسته ورانه کړه .

خبرزیاتوی چې دمجاهدینو ددی مشترکه عملیاتو په نتیجه کې ددښمن ٦ تنه صاحب منصب او ١٢ کسه (کیانی ملیشه) وژل شوی ، همداراز دمجاهدینو ددرنو وسلو دډزو له امله دپوستی نظامی تأسیسات چاودیدلی دی .

پدی عملیاتو کې مجاهدینو له دښمن څخه ٨ میله کلاشینکوف ، ٢ میله منځنی واټن ویشتونکی راکټ ، ٢ میله ګرینوف ، اویو میل پی کا ماشیندارپه غنیمت نیولی دی .

همداراز د« میډیا » دریوټ په اساس ددلوی په شلمه دغزنی ولایت د(اکرم خیلو کلا) په سیمه کې مجاهدینو دخپلو درنووسلو په واسطه ددښمن یوه نظامی پوسته تربرید لاندی ونیوه چې په هغې کې ددښمن ٣ تنه صاحب منصب مړه ، او٨ کسه عسکر ټپیان شول .

دهیئت تحریر ترنظر لاندې
مکاتباتي پته
پوست بکس (١٠٣٣)
یونیورستي تاؤن پیښور
تیلفون :... (٤١٧٤٦)

په کابل ښارکی بی ساري یخنی اوقحطي

دکابل ښارڅخه رارسیدلی خبرونه وایې چې دژمی بی ساری یخنی ، دخوراکې اوسون دموادو له حده زیات ګران والی ، اودی لوری ته دکابل دمزدور رژیم بی پروایې دکابل ښاریانو ژوند له خطرسره مخامخ کړی .

ویل کیږی چې سږکال په کابل کې دیخنۍ شدت په تیرولسو کلونو کې بی سابقی ښودل شوی ، اودی وضعی دکابل ښاریو زیات شمیر اوسیدونکی سوال (ګدایی) ته مجبور کړی .

راپوروایې چې اوس په کابل ښارکې دیوی وچی ډوډۍ قیمت چې له (٤٠٠) ګرامه څخه یې وزن کم دی (٢٠) افغانی اودسیلو ډوډۍ قیمت له یوه کیلووزن سره (٨٠) افغانی دی ، چې هغه هم په خورامشکل سره ترلاسه کیدای شی .

همدارنګه د(٧) کیلو وریجو قیمت (٤٠٠٠) افغانی دغوایی یوی کیلو غوښی قیمت (١٢٠٠) افغانی دیوه ګیلن پترولو ، ډیزلو اودخاورو تیل قیمت (١٥٠٠) افغانی د٧ کیلو غنمو قیمت (٢٠٠٠) افغانی داوه کیلو زغالو قیمت (١٥٠٠) اوداوه کیلو لرګیو قیمت (٦٠٠) دی .

ریوټ لیکی چې دکابل رژیم خپل ټول توان اوقدرت دجنګ جبهاتو ته متوجه کړی اوله دی امله دښاریانو مشکلاتو ته څه توجه نلری

« میډیا »

دافغانستان په جنوب لویدیزوسیمو کې دمجاهدینوبریالی عملیات

په هغه خبرونو کې چې دافغانستان دزابل ، قندهار اوهلمند څخه رارسیدلی ویل شوی چې مجاهدینو پدی وروستیو کې پدغه ولایتونو کې یو لړ بریالی عملیات ترسره کړی .

ددی خبر په تفصیل کې ویل شوی چې مجاهدینو دزابل ولایت پر مرکز قلات ښارکې دمزدوررژیم پرپوځی مرکزونو باندی حملی وکړی ، همدارنګه دقندهار په ښارکې د«دامان » په منطقه کې درژیم پرمرکزونو باندی مجاهدینو حملی وکړی ، په همدی توګه دهلمند ولایت مرکز دلشکرګاه ښارته تلونکی درژیم پر اکمالاتی قطارباندی مجاهدینو حملی وکړی چې دښمن ته یې خورا زیات ځانی اومالی تاوان وراړولی .

ددی عملیاتو په ترځ کې په مجموعی توګه ددښمن (١٢) کسه عسکر اوصاحب منصب هلاك ، اوددښمن دوه عرادی ټانکونه له منځه تللی .

ددی عملیاتو په ترځ کې دمجاهدینو څخه دوه کسه شهیدان اواوه کسه نورټپیان شوی .

دایران خارجه وزیر د روسیې څخه تهران ته ورسید

تهران ددلوی ٢٧ مه :

دایران دبهرنیو چارو وزیر علی اکبر ولایتی له مسکو څخه بیرته تهران ته ستون شو .

نوموړی په روسیه کې دخپل لنډ اقامت په دوران کې دخلیج دکړکیچ دحل لپاره ددواړو هیوادونو دخپل منځی مرستی په اړه له روسی مقاماتو سره خبری اتری کړی روس دی ته تیاروالی ښودلی چې په نژدی راتلونکی کې به ددی موضوع په اړه دنورو خبرو لپاره دروس دبهرنیو چارو وزیر تهران ته لاړشی .

دکابل هوایی ډګر دمجاهدینو تربرید لاندی ونیول شو

کابل ددلوی ٢٢مه :

دکابل ولایت دکوه صافی له جبهاتو څخه دقوماندانانو شورا نظامی دفترته رارسیدلی خبرونه وایی چې ددی جبهاتو زړورومجاهدینو ددلوی په ٢٢ مه نیټه ددرنو وسلوپه وسیله دکابل هوایی ډګرتربرید لاندی ونیو

ددی برید په نتیجه کې ددښمن یو عراده جیپ اودوه عرادی داعاشی موټر دهغوی له سورلیو سره له منځه لاړل ، دسورلیو په ډله کې دوه کسه صاحب منصبان هم شامل دی .

همدارنګه دکوه صافی څخه دیوه بل خبر په ترځ کې ویل شوی چې مجاهدینو دکابل پرهوایی ډګر باندی عملیات وکړل چې په نتیجه کې یې دوه نقلیه موټر اویوه باربری الوتکه تخریب شوی دی .

فتح پنج پوسته وسقوط ...

ساختند ،همچنان دریك عملیات جداګانه که مجاهدین هرات بریك پوسته رژیم درشیندند اجرانمودند آنرا فتح چارتن ازملیشه های رژیم مزدور راهلاك وچندتن دیګررابه اسارت ګرفتند .

طبق یك خبر دیګر مجاهدین دریك حمله بردشمن دوپوسته رادرولسوالی میوند ولایت کندهار فتح هشت تن ازافراد پوسته راهلاك وتعداد زیادی رااسیر ساختند .

درخبر علاوه شده است که طی این فتح مجاهدین یك مقدار زیاد سلاح رابه غنیمت ګرفتند .

یك خبردیګر جهادی ازولایت زابل مشعر است که مجاهدین به ادامه عملیات موفقانه خویش دوهلیکوپتر رژیم دست نشانده کابل راسرنګون نمودند خبرحاکیست که دوهلیکوپتر مذکور درمنطقه شهرصفا سرنګون ګردیده وراکبین ان همه ازبین رفتند .

مجاهدینو دکابل راډیو په ستیشن باندي برید وکړ

کابل ٢٧ دلو :

دکابل ولایت دچکریو له جبهو څخه دقوماندانانو شورا نظامی دفترته په رارسیدلی یوه مخابروی پیام کې ویل شوی چې ددی سیمی باتورومجاهدینو ددلوی په ٢٧ مه نیټه د(سکر ٢٠) توغندیو په وسیله دکابل راډیو دستګاه تربرید لاندی ونیوله .

دغه راپورزیاتوی چې دبریدپه نتیجه کې ددښمن له افرادو څخه ٦ کسه له منځه لاړل او٦ کسه نورټپیان شول .

* * *

په برما کې (١٣٥٨) کسه د«ایډز» په وژونکې ناروغی اخته دی !

درنګون راډیو دیوه خبر په حواله ویل شوی چې دبرما (١٣٥٨) کسه اوسیدونکوپه وینه کې دایډز ناروغی مکروب لیدل شوی .

په برما کې دایډز لومړنی مریض په ١٩٨١ عیسوی کال کې ښکاره شو ، چې له هغې وروسته د١٩٩٠ کال ترپایه پوری ددغه مرض مکروب په ١٣٥٨ کسانو کې ولیدل شو .

ایرانی پوځیان دروس په خاوره کې ترپوځی روزنې لاندې نیول کیږی

واشنګټن دپاکستان ورځپانه :

دنړیوالو خبرځایونو په حواله ویل کیږی چې دایران اوروسی ترمنځ پوځی مرستی زیاتی شوی دی .

په خبرونو کې ویل شوی چې اوس اوس (٥٠) ایرانی پوځی افسران دروسیې دخاوری مربوط د« ریګا » دساحلی ښارپه یوه بحری اډه کې پوځی تربیت ترلاسه کوی .

دغه ایرانی افسران دنورو درسونو سربیره دبحری جنګی بیړیو ، اودفاعی ګزموی بیړیو داستعمال لاری چاری زده کوی .

« ریګا » یوبالتیکی ساحلی ښاردی چې همدااوس هلته دروسی پوځونو اودهغه سیمی دآزادی غوښتونکو ترمنځ شدیدی جګړی روانی دی .